بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۳۴ گنه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۳۴) عقرب ۱۴۰۳ : لومړی مخ :صفحه اول



اونیزه راستنیدنه عودت هفته نامه

علم د هر ډول یرغل پر وړاندې له ځانه د دفاع یوازنۍ وسیله ده .
الحاج خلیل الرحمن حقاني

# د دیني ازموینې د پایلو د اعلان او د جایزو وېش پروگرام جوړ شو

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د دعوت او ارشاد ریاست له لوري په اخیستل شوې دیني ازموینه کې د لوړو نومرو گټونکو د پایلو اعلان او د جایزو د وېش پروگرام جوړ شو.

د وزارت د دعوت او ارشاد رییس مولوي محمد جان خدرخېل په دې اړه په خپلو خبرو کې دا پروگرام یوه ستره لاسته راوړنه وبلله او د دا ډول پروگرامونو د جوړولو ارزښت ته په اشارې یې وویل: د امربالمعروف او نهې عن المنکر وزارت له لوري په تاکل شوي او بیا زموږ د وزارت د ارشاد او دعوت د ریاست له لوري په تدریس شوي نصاب کې ازموینه واخیستل شوه. په دې ازموینه کې ځینې په دې وتوانېدل چې لوړې نومرې واخلي او دا دی نن یې موږ د نومرو د اعلان او ورته د جایزو د وېش د پروگرام گډونوال یو.

ښاغلي خدرخېل د وزارت له کارکوونکو وغوښتل چې په خپلو دندو کې اسلامي ارزښتونو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په خپلو خبرو کې د اسلامي نظام پر ارزښت او مقام خبرې وکړې او زیاته یې کړه: خوښ یم چې د دیني او اسلامي علومو د ودې په موخه دا پروگرام جوړ شوی دی.

د مهاجرینو چارو وزیر وویل: که موږ ښه عمل وکړو، زموږ ټول کارونه به سم پرمخ لاړ شي او که نه، زموږ هېڅ عمل به سم نه وي.

نومړي د وزارت کارکوونکي وهڅول، چې د ژوند په ټولو برخو کې دیني علومو ته پاملرنه وکړي او د دا ډول علمي سیالیو او پروگرامونو جوړول یې د افکارو د روښانه کولو او اسلامي نظام لپاره مهم وبلل او په راتلونکي کې یې هم د دغه ډول پروگرامونو د جوړولو غوښتنه څرګنده کړه.

پروگرام د ازموینې د لوړو نومرو گټونکو ته د وزارت د مشرتابه او د مرکزي رییسانو له لوري د جایزو په ورکولو او په دعایې سره پای ته ورسید.



## سفیر کشور چین، با وزیر امور مهاجرین دیدار کرد



آقای ژاو شینگ سفیر کشور چین مقیم در شهر کابل، با الحاج خلیل الرحمن حقانی، وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، دیدار کرد.

در این دیدار که در دفتر کاری محترم حقانی صورت گرفت، در مورد چگونکی انتقال دومین دسته کمک های آنکشور به ارزش ۱۰۰ میلیون ین چینی مورد بحث و بررسی قرار گرفت.

وزیر امور مهاجرین از کمک های کشور چین تشکری کرد و خواست که با فرا رسیدن فصل زمستان نیازهای مهاجرین افزایش یافته تا آنان به زودی این کمک ها را دریافت کنند.

سفیرچین افزود: کار تخنیکی انتقال این کمک ها به پایان رسیده و پس از طی مراحل اداری، اواخر ماه جاری میلادی انتقال داده می شود.

در این دیدار دو طرف بر هماهنگی و همکاری با یکدیگر برای رسیدگی بهتر به مشکلات مهاجرین تاکید کردند.

## د وزارت کارکوونکو لپاره د پلان جوړونې په موخه یو ورځنی ورکشاپ پیل شو



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د پلان او پالیسۍ ریاست له لوري د مرکزي رییسانو، آمرانو او مدیرانو لپاره د پلان ورکونې او پلان ترتیب یو ورځنی ورکشاپ د مهاجرینو چارو وزارت د کنفرانسونو په تالار کې جوړ شو.

د وزارت مالي او اداري مرستیال شیخ کلیم الرحمن فاني د اسلام د سپیڅلي دین له نظره د پلان د ارزښت په اړه خبرې وکړې او ویې ویل: پلان په یوه اداره کې د یوې اړینې موضوع لپاره جوړېږي او له مخې یې کارونه مخ ته وړل کېږي.

د کایناتو نظام او د پېغمبرانو ټولې چارې د یو پلان له مخې رامنځته شوې دي او تر وروستۍ ورځې پورې به دوام لري.

هغه د پلان شتون د اسلام له نظره مهم او ارزښتناک وباله او زیاته یې کړه: که پلان سم وي، موږ به بریالي شو او مطلوبه پایله به ترلاسه کړو.

وروسته د وزارت د پلان او پالیسۍ رییس مولوي محمودالحق احدي د پلان ریاست ستراتیژیکې موخې تشریح کړې او زیاته یې کړه: د دغه ریاست په تعاملاتو او فعالیتونو کې ټول کارکوونکي شریک دي او دا ټولې چارې شریکې دي او له یو کس پورې تړلې نه دي.

هغه زیاته کړه، د پلان ریاست هڅه کوي، چې پلان گام په گام پلی کړي، چې دایمي او باثباته خدمتونه وړاندې کړي.

بیا د پلان آمر حکمت الله رحیمي د پلان د فارمټ او تشریح په برخه کې پریزنټیشن ورکړ. کلنی پلان یې تشریح کړ او ورکشاپ د دعا په ویلو سره پای ته ورسید.

## دمهاجرینو چارو مسلکي مرستیال نیمروز ولایت ته لاړ



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد د خپل سفر په لړ کې نیمروز ولایت ته لاړ.

ښاغلي راشد د نیمروز ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو

بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۳۴ گڼه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۳۴) عقرب ۱۴۰۳ : دویم مخ :صفحه دوم



راستنېدونکي عودت
اونیزه
هفته نامه

د مهاجرینو چارو مسلکي مرستیال د نیمروز د سرحدي امریت چارو او د لنډمهالې استوګنې مېشتغالي لیدنه وکړه

چارو ریاست لیدنه وکړه او د دې ریاست له رییس او کارکوونکو سره یې وکتل او ویې ویل چې زموږ کاري لومړیتوب بېځایه شویو او راستنېدونکو ته خدمت دی.

د نیمروز د مهاجرینو چارو رییس الحاج عبدالله ریاض مسلکي مرستیال او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د خپل ریاست د چارو او کړنو په اړه یې له ښاغلي راشد سره معلومات شریک کړل.

د وزارت مسلکي مرستیال دندو ته پر پابندۍ، د چارو په ترسره کولو کې پر روڼتیا او له مراجعینو سره پر ښه چلن باندې ټینګار وکړ، چې د نمیروز د مهاجرینو چارو ریاست د کارکوونکو له لوري د همکارۍ ډاډ ورکړل شو.

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، جریان کار پروژه های انکشافی را در ولایت هلمند، مورد نظارت و بررسی قرار داد



مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، در جریان سفرش به ولایت هلمند، ازجریان کار ۹ پروژه انکشافی دربخش های اعمار مکاتب، مراکز صحی، اجتماعی و شبکه های آبرسانی در آن ولایت نظارت و بررسی بعمل آورد.

در این بازدید آقای راشد را غلام نبی الله داد خیل ستانکزی رییس حمایت حقوقی وزارت امور مهاجرین، مولوی الله داد انقیادی رییس مهاجرین هلمند و اعضای تیم تخنیکی وزارت همراهی مینمودند.

به گفته مسوولان در آن ولایت، از جمله ۹ پروژه انکشافی در بخش های مختلف در آن ولایت دو آن تکمیل، چهار آن در جریان و سه پروژه دیگر در سال آینده میلادی آغاز خواهد شد.

پروژه های یاد شده با حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان به هزینه دو نیم میلیون دالر امریکایی توسط دفتر واو تطبیق و توسط ریاست امور مهاجرین ولایت هلمند نظارت خواهد شد.

آقای راشد در این نظارت و بررسی از پروژه های یاد شده خرسندی نموده و آن را برای ضعیف ترین قشر کشور ارزنده تلقی نموده ضروری دانست.

## نیمروز: د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال په شتون کې یو روغتیایي مرکز ګټې اخیستنې ته وسپارل شو




د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او مل پلاوي په شتون کې د نیمروز ولایت د مرکز زرنج ښار شاوخوا د سیاه چشمان په کلي کې یو روغتیایي مرکز ګټې اخیستنې وسپارل شو.

دا روغتیایي مرکز په یو پوړ کې ۱٦ خونې لري، چې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د ۱۵۷ زره ۳۳۵ امریکایي ډالرو په لګښت جوړ شوی دی.

ښاغلي راشد د دغه روغتیایي مرکز پرانیستلو باندې خوښي وښوده او د دغه مرکز جوړېدل یې د مهاجرینو د روغتیایي ستونزو د حل لپاره غوره اقدام وباله.

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، ازجریان کار پروژه های انکشافی، در ولایت نیمروز، نظارت بعمل آورد



الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین وعودت کنندگان، در ادامه سفرش به ولایت نیمروز، از جریان کار ۳ پروژه انکشافی در آن ولایت، نظارت بعمل آورد.

پروژه های انکشافی یاد شده شامل اعمار یک باب مکتب و دو باب مراکز صحی در محلات مرکزی و ولسوالی دلارام آن ولایت میباشد که با حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان با هزینه ۸ صدو ۹۶ هزارو ۱۰۲ دالر امریکایی به اساس تفاهم نامه های منعقد شده توسط موسسه زنان برای زنان و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان قبلاً آغاز شده است و قرار است که به زودی به بهره برداری سپرده شود.

آقای راشد در این نظارت، بر معیاری بودن بهتر مراکز یاد شده به مسوولان هدایات لازم ارایه کرد.

## د مهاجرینو چارو مسلکي مرستیال د نیمروز د سرحدي امریت چارو او د لنډمهالې استوګنې مېشتغالي لیدنه وکړه



د مهاجرینو چارو مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد سره نیمروز ولایت ته د سفر پرمهال د وزارت د حقوقي ملاتړ رییس الحاج غلام نبي الله دادخېل ستانکزي او د نیمروز د مهاجرینو رییس حاجي عبدالله ریاض هم ملتیا کوله، چې د نیمروز د سرحدي آمریت او د لنډمهاله استوګنې مېشتغالي څخه یې لیدنه وکړه.

ښاغلي راشد په دغه ښارګوټي کې د مهاجرینو چارو د آمریت د کارونو ارزونه وکړه او د لنډمهاله استوګنې مېشتغالي کې یې د راستنېدونکو مهاجرینو لپاره، د تثبیت، لنډمهالې مېشتېدنې، روغتیا، خدمتونو، کارموندنې او نورو ورته کاري کمېټو کارونه له نږدې وکتل او اړونده مسوولینو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې.

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۳۴ گنه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۳۴) عقرب ۱۴۰۳ : درېیم مخ :صفحه سوم



اونیزه راستنېدنه عودت هفته نامه

کار ساخت سه پروژه انکشافی در ولایت فراه، مورد نظارت قرار گرفت

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با معاون والی ولایت نیمروز، دیدار نمود



الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، در ادامه سفرش به ولایت نیمروز، با سید سلیمان آغا، معاون والی آن ولایت دیدار نمود.

دراین دیدار که غلام نبی الله داد خیل ستانکزی رییس حمایت حقوقی، اعضای تیم تخنیکی وزارت و رییس مهاجرین ولایت نیمروز حضور داشتند در مورد حل مشکلات مهاجرین و بیجاشدگان داخلی در آن ولایت گفتگو صورت گرفت.

معاون والی نیمروز ازهمکاری اش به آقای راشد در حل مشکلات عودت کنندگان و بیجاشدگان اطمینان داد.

## د وزارت مسلکي مرستیال فراه ولایت ته لاړ



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد سویل او سویل لویدیځو ولایتونو ته د خپل سفر په لړ کې دا ځل فراه ولایت ته لاړ او د فراه ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست لیدنه یې وکړه.

ښاغلي راشد په دې لیدنه کې د دغه ریاست له کارکوونکو سره ولیدل او د خپل سفر موخې یې ورسره شریکې کړې.

نوموړي همدا راز د ورځنیو چارو او مهاجرینو ته د خدمتونو د لا ښه والي په موخه د شریعت د اصولو او قواعدو پر پابندۍ، په دندو کې پر اخلاص و رونتیا او پر نیک چلند ټینگار وکړ.

د فراه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کارکوونکو د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال او مل پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د دغې اداري د کارونو په اړه یې له ښاغلي راشد سره معلومات شریک کړل او د خپلې همکارۍ ډاډ یې ورکړ.

## کار ساخت سه پروژه انکشافی در ولایت فراه، مورد نظارت قرار گرفت



کار سه پروژه انکشافی در ولایت فراه توسط الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین وعودت کنندگان نظارت صورت گرفت.

معین مسلکی وزارت با اعضای هیات همراهش در ادامه سفری که به ولایت فراه دارد از کار ساخت و ساز دوباب مکتب و ۵۵ باب سرپناه که در محلات مرکزی و ولسوالی گلستان آن ولایت قرار دارد دیدن بعمل آورد.

پروژه های انکشافی یاد شده با حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان به هزینه ۹ صدو ۴۹ هزار دالر امریکایی به اساس تفاهم نامه های منعقد شده توسط موسسات واو، اکرو و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان آغاز شده و قرار است که به زودی تکمیل وبه بهره برداری سپرده شود.

## د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د فراه ولایت د والي سره وکتل



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد د فراه ولایت له والي الحاج مولوي غوث الدین رهبر سره وکتل.

په دې کتنه کې له مسلکي مرستیال سره د حقوقي ملاتړ رییس الحاج غلام نبي الله داد خیل ستانکزی د فراه ولایت د مهاجرینو چارو سرپرست او د وزارت د تخنیکي ټیم غړي هم مل وو، چې د مهاجرینو د ستونزو د حل او په دغه ولایت کې د داخلي بېځایه شویو په اړه خبرې پکې وشوې.

په دې کتنه کې د فراه والي ښاغلي راشد ته د راستنېدونکو، بېځایه شویو د ستونزو د حل په برخه کې د خپلې همکارۍ ډاډ ورکړ.

## رییس جدید امور مهاجرین ولایت فراه معرفی شد



به اساس حکم عالیقدر امیر المومنین زعیم امارت اسلامی افغانستان، مولوی عبدالغنی احسان در بست رتبه دوم به صفت رییس جدید امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت فراه، طی مراسم رسمی با حضور مولوی عبدالکریم جهاد یار معاون والی فراه و مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین معرفی شد.

آقای راشد حکم انتصاب وی را قرائت نموده ضمن ارایه تمنیات نیک به رییس جدید توفیقات مزید وی

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۳۴ ګڼه لړم ۱۴۰۳ : شماره (۳۴) عقرب ۱۴۰۳ : خلورم مخ: صفحه چهارم



اونیزه راستنېدنه
عودت هفته نامه

نماینده سازمان ملل متحد و سفیر اتحادیه اروپا، ازآمریت سرحدی تورخم دیدن بعمل آوردند

را در جهت خدمت بهتر به خانواده های بیجاشده و برگشت کننده به طور موثر و بدون تاخیر در آن ولایت خواهان شد.

معین مسلکی وزارت آرزو نمود با آمدن آقای احسان در ریاست مهاجرین فراه خدمات موثری به شهروندان دردمند ارائه شود.

معاون والی فراه ضمن تبریکی به رییس جدید مهاجرین خواستار تلاش های بیشتر وی در عرضه خدمات به صورت صادقانه شده و از کارمندان ریاست مهاجرین خواست تا با رییس جدید همکاری کامل داشته باشند.

مولوی عبدالغنی احسان رییس جدید مهاجرین فراه از اعتماد مقامات رهبری امارت اسلامی تشکری کرده و افزود:

که با همکاری کارمندان ریاست مهاجرین تلاش های بیشتری در ارائه خدمات صادقانه و موثر به شهروندان خواهد داشت.

## د څه باندي ۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د افغانستان لپاره د اوبو د مرستي موسسي ترمنځ په مهاجرینو چارو وزارت کې د ۱۳ میلیونه ۸۷۷ زره ۴۱۳ افغانیو په ارزښت د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو.

د دې هوکړه له مخې پورتنۍ پیسې به په لوګر ولایت کې د روغتیایي مشورې او د مرستو د وېش په برخه کې ولګول شي، چې ۵۲۰ کورنۍ به ترې ګټه واخلي.

دغه هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د دعوت او ارشاد رییس او اوس د وزارت مسلکي مرستیال مولوي محمد جان خدرخیل او د دغې موسسې د استازي له لوري لاسلیک شو.

## نشستی با اعضای کمیته انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان، در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان برگزارشد



نشستی با اعضای تیم تخنیکی کمیته انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان، پیرامون انتقال یک صدو ۱۱ خانواده بیجاشده از شهر کابل به ولایت کندز که قبلاً پروسه بایومتریک آن تکمیل شده است بر ریاست مولوی سردار شیرزاد رییس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی وزارت برگزار شد.

اعضای این نشست را نماینده های سازمان بین المللی مهاجرت، کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، اداره هماهنگ کننده کمک های بشری سازمان ملل متحد، برنامه اسکان بشری سازمان ملل و انجمن مهاجرین ناروی تشکیل میدادند.

آقای شیرزاد اعضای تیم یاد شده را خوش آمدید گفته هدف نشست امروزی را انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان خوانده افزود: یکی از اهداف بزرگ وزارت امور مهاجرین و امارت اسلامی این است تا بیجاشده گان داخلی را با عزت و یک ترتیب منظم به مکان های اصلی شان انتقال دهیم که از آن جمله یک صدو ۱۱ خانواده پس از پروسه بایومتریک آماده انتقال از شهر کابل به محل اصلی شان در ولایت کندز میباشند.

اعضای تیم و شاملین نشست از آماده گی شان مبنی بر همکاری های بیشتر در بخش های خوراکی، نقدی پرداخت کرایه انتقال و سایر خدمات اولیه بشری برای خانواده های بیجاشده تعهد سپردند.

## سمنګان کې د لېندۍ پر لسمه دوه شنې خونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د سمنګان ولایت د مهاجرینو چارو د آمر په وینا دغه دوه شنې خونې د درې زره او ۲۰۰ امریکایي ډالرو په لګښت د افغان پراختیایي خیریه موسسې له لوري له مهاجرینو چارو آمریت سره په همغږۍ د ښځینه وو لپاره د شنو خونو د سوداګرۍ د پراختیا په موخه د سمنګان د مرکز د لرغان او خواجه اسماعیل سیمو اړوند په ۱۰۰ متر مربع کې په پنځو میاشتو کې بشپړې شوې دي.

د دې پروژې ګډونوال کولی شي په دې ډول د موسمي تخمونو په کرلو سره خپل ژوند ښه کړي.

## نماینده سازمان ملل متحد و سفیر اتحادیه اروپا، ازآمریت سرحدی تورخم دیدن بعمل آوردند



به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین ولایت ننگرهار، نماینده سازمان ملل متحد و سفیر اتحادیه اروپا مقیم کابل از آمریت سرحدی تورخم آن ولایت دیدن بعمل آوردند.

در این دیدار که آنان را نماینده های سازمان های بین المللی نیز همراهی مینمودند با بخت جمال گوهر آمر سرحدی تورخم ملاقات و از کارکرد وی ستایش نموده افزودند: با روی کار آمدن امارت اسلامی در تورخم، چنین کارها و خدماتی در سطح بالایی برای مهاجرین افغان که قبلاً در اینجا وجود نداشت ارائه شده است.

آقای گوهر با اشاره پروسه کاری خدمات و فعالیت های آن آمریت برای مهاجرین، خواهان همکاری در رسیده گی به مشکلات بخش های مختلف آن آمریت از جانب آنان شد.